# پښتو او اصلي اريايي ژبه (اريک)

- په دې ليچکر کښې دا هڅه شوې ده چې د پښتو او اصلي اريايي ژبې – اريک تر مينځ تاريخي او لرغوني اړيکې وڅيړو، او دا ښکاره کړو چې پښتو ژبه هم د سنسکريت او زند يا آوستا غونډې له اريک ژبې زيږيدلې ده.
- ډاکټر ګوستاولوبون وائي:

تر خپريدلو او هجرت له مخه اريايي اقواموېوه مخصوصه ژبه ويله، چې نوم يې (اريک) و، دا ژبه اوس ورکه ده، خو سنسکريت ژبه له هغې ژبې څخه راوتلې ده. دا اصلي اريايي ژبه چې د ټولو اريايي ژبو مور يا انا بلل کيږي، لا تر ميلاد ۳۰۰۰ کاله د مخه ويل کيده او د دوی مشترکه ژبه وه.

- خو اوس يې هيڅ نښه او بولګه نه ده پاتې. داسې پوهان د اصلي اريايي ژبې عمر ۲۵۰۰ تر ۳۰۰۰ قبل اميلاد پورې تخمين کوي.
- دوی وائي: چې کله اريايي اقوام تر اباسين (انډوس) پورې وتل او هلته يې خپل مشهور ديني کتاب ويدا (Veda) په خپله ژبه انشا کړ چې تاريخ يې تر ۱۴۰۰ قبل الميلاد د مخه دی.

# پښتو او اصلي اريايي ژبه (اريک)

- پوهان داسې فکر لري چې ارين توکم چې کله له بخدي څخه د هند و خوا ته وکوچيدل، نو ژبه يې سنسکريت شوه او د ويدا کتاب په دغه ژبه دی، يا هغه قبايل چې ايران ته ولاړل: ژبه يې فرس قديم بيا پهلوي بيا اوسنۍ پارسي شوه.
- او هغه قبايل چې په خپله په بخدي کې پاته شول کومه ژبه يې ويله؟
- پوهاند حبيبي صاحب دغه عقيده لرري چې وروسته دغه قبايل تر هندوکش راتير شول، دوی د بخدي په نامه (بخت + پکهت+ پښتون) بلل کېدل او هغه تاريخي نوم دوی تر اوسه ساتلی دی او هغه پخواني ژبه هم دوی تر اوسه خوندي کړې ده.
- په دې کې هيڅ شک نشته چې بخدي اريايان ۱۴۰۰ ق م يعني هغه وخت چې د هندي اريايانو ديني کتاب ويدا ليکل کيده، د پهکت په نامه مشهور وو. په خپله په ريګويدا کې هم د دوی نوم ذکر کيږي، نو چې دغه ملت په دغه نامه موجود وي، د دوی ژبه هم بايد موجوده وي.

# پښتو او اصلي اريايي ژبه (اريک)

- تاريخي اسناد ښکاره کوي:
- چې اريايي بخدي يا پکهت اقوام له ۱۴۰۰ ق م د هيواد شرقي غرو او د اباسين غاړو ته تللي او دلې مېشته وو، ځکه چې ريګويدا د دوی نوم د هند په يوه مشهور جنګ کې ذکر کوي او هم وروسته ۱۰۰۰ ق م په بخدي يا باختر کې پوه بله ژبه پيدا کيږي چې (زند) يې نوم او د اوستا مشهور ديني کتاب په دغه ژبه دی.
- او بيا هغه وخت چې هيروډوټ يوناني مورخ د پکهت او پاکتويس ذکر کوي، نو د ۵۲۰ ق م په حدودو کې هم دو د اباسين (اندوس) پر غاړه يادوي.

# پښتو او اصلي اريايي ژبه (اريک)

- د اريا کلمه
- د ارين د کلمې ځانګې په سنسکريت کې آريا يا اريا او په زند کې ايريا دي، چي هغه د شريف او نجيب معنا لري. دوی (ارينو) به له خپلو دښمنانو څخه ځانو ته په دغه نامه امتياز ورکولی چي د دوی له ښته نه وو او اصيل نه ګڼل کېدل.
- دا نوم له ريګويدا پرته په اوستا کې ههم راځي او داسي وائي:

  خدای تعالی د ارين مځکه او د ارين توکم او ښت پيدا کړ.
- پوهان (آر) د اصلي په معنا بولي، او ځيني محقيقين دې ته هم تللي دي چي اريا له (آر) مشتق دی، چي په پخوانۍ سنسکريت کې يې د کرنې يعني زراعت مفهوم درلود. نو له دې کبله آريا کرونکي (بزګر) ته ويل کيده.
- د سنسکريت نامتو پوهاند مېکس مولر هم د هند د خلګو په تاريخ کې مني او ارين د کرونکې په معنا اخلي.

# پښتو او اصلي اريايي ژبه (اريک)

## په اريايانو کښې د کرنې يا کرهڼې ارزښت

- په اريايي اقوامو کې کرنې يا کرهڼې ته په درنه سترګه کتل کېدل، دوی په خپل دين کې مکلف (پابند) وو، چې زراعت / کرنه ته پام وکړي. په ريګويدا او اوستا کې د کرهڼې کارونه د شرافت په سترګه کتل شوي دي او کرهڼه يې د شريفو او اصيلو او پوهو خلکو کار بللی دی.

- په ويدا کې راغلي دي: پوه او دانشمند انسان په کرهڼه / کرنه بوخت وي.
- بل ځای وائي: ای انسانانو د غنمو او نورو شيانو د کرهڼې لپاره په سپاره، مځکه سره خيرې کړئ، ښکلې اربې وچلوئ او ځانونه پرې وساتي.

# پښتو او اصلي اریایي ژبه (اریک)

## په پښتو کې د ارین ریښه

- په پښتو ژبه کې د دغو دواړو معناوو لپاره، چې پوهانو د (آر) په اړه ښوولې دي، ریښې او مستعملې ژوندۍ کلمې شته.
- ۱ – تر اوسه پورې (آره) د اصل او بنیاد په معنا په پښتو ژبه کښې موجوده او مستعمله کلمه ده چې اکثر قبایل یې وایي. اکبر زمینداور (۸۰۰ حدود) په یوه شعر کښې داسې راوړې ده.

دغم آره یې شوه ټینګه زما په زړه کې
د رقیب سره خندا کړي هوسیزي

- بل شاعر ملا الف هوتک چې بحر الایمان یې په ۱۰۱۹ هجري کښې نظم کړۍ دی، وائي

دی له آره و ښاغلی
څکه شو په ویر نتلی

# پښتو او اصلي اريايي ژبه (اريک)

- پير محمد مياجي ۱۱۳۵ هجري په حدودو کښې په يوه شعر کښې داسي راوړې ده:

شيخ متي چي خليلي وو
دی له آره لوی ولي وو

- ۲ – که (آر) په دويمه معنا يعني کښت او کرنه د مېکس مولر په قول واخلو نو دا هم په پښتو کښي تر اوسه شته. په قندهار کې بزګران او کښتګران د لو پر وخت داسي وائي: آره آره لور پر غاړه
- نو که د آرين کلمه په لومړۍ معنا اصيل وي، هم په پښتو کې شته او که په دويمه معنا کښتګر وي، دا هم په پښتو کې تر اوسه مستعمله ده.
- له دې پرته د آرين کلمه د پښتو له ګرائمر سره هم مطابقت لري. (ين) په پښتو کې ډير د نسبت د په ډول راځي او د کلماتو په پای پورې نښلي، لکه: زړ – زړين، او که په پای کښې (ه) وي غورځي، لکه خاوره – خاورين .
- لنډه دا چي د دې تاريخي اسنادو په رڼا کښي دا ويلای سو چي پښتو د اصالت او قدامت له پلوه هغې زړې ژبې ته ډيره نيژدې ده.

# سنسکریت ژبه

- د سنسکریت د کلمې مانا (مهذبه، بشپړه او سمه کړې) ده. د خپل نوم سره سمه دغه ژبه د ویدي ژبې له تهذیب او سمولو څخه پیدا شوه، پوهان په دې خبره کې اختلاف لري، چې ایا کوم وخت دا ژبه ویل کیده که نه؟
- خو دا ښکاره ده چې سنسکریت یوه پخوانۍ علمي او پراخه یا ارته ژبه ده. د سنسکریت نوم او د دې ژبې تهذیب او سمول نسبتا نوی کار دی.

## سنسکریت ژبه ویل کېده او که نه ویل کیده؟

- سنسکریت فقط د علم ژبه وه او اکثر پوهان په دې فکر دي چې دا ژبه عموما نه ویل کېده، ځکه چې د عمومي وینا ژبه باید ډېره اسانه او ساده وي.
- مګر سنسکریت هسې د علم په درنو اوندېیو اده ژبه ده، چې عوام یې کورټ نه شي زده کولای او تاریخ هم دا نه ښکاره کوي چې یو وخت دا ژبه د عوامو ژبه وه.

# سنسکریت ژبه

- په خپله د هند برهمنان وائي: چي یو وخت دا ژبه د هند په شمالي خواوو کې ویل کیده.

- خو وروسته د دې ژبې نورې څانګې پراکریت یعني فرعي ژبې باندې غالبې شوې او دا فقط د علم لپاره مخصوصه شوه او هم د پوهانو او دیني خلګو په مینځ کښې محصوره پاتې شوه او لکه چي پوهان وائي، د دې ژبې پوهانو د مقدس والي له جهته نه غوښتل چي عوام او هر څوک دا ژبه زده کړي یا یې واوري.

- نوځکه د کتابو او پاڼو په منځ کې ژوندۍ وه، خو ویکل کېدله نه. (د پښتو ادبیاتو تاریخ)